آصف بهاند　　　　　　　　　　　　　　　　　　۲۰۱۶/۰۳/۱۸

# ځو پسرلي دي چې دې لار ځارمه

## (د استاد حمزه شینواري په اقتفا)

بیا دغه پنخ په نــــویدو ښکاري
هر څه کې سا پــــه پو کیدو ښکاري
هر څه بــــه نوې ښکلي سا واخلي بیا
چې نوی بـــــاد په چلیدو ښــکاري
ځو پســــرلي دي چې دې لار ځارمه
راشه چې لار پـه ورکیدو ښکـاري
صبر مې وسوو د هــجران په اور کې
د ژوند پـیاله پـه ډکیدو ښــکـاري
چې دې راتګ نه لږ خبر غوندې شم
بیا مې لیمه په څڅیدو ښـکاري
ښـکاري چې لږه شوه هغه مینه دې
داغ د لالـه پـه کـمیدو ښـــکاري
تا د قیامت په نوم یـو څه جوړ کړي
ځکه قیامت پـه رسیـدو ښکاري
کله بـه جوړ شي دا نیمګړی ژوندون
لاره ځـواني پـه زړیـدو ښـــکاري
حمزه شــو پــلار د غـزل ښه وشولو
اوس یې هر جاج په غوړیدو ښـکاري

کابل، افغانستان

د ۱۳۶۳ کال د کب اولسمه

(مروره مځکه، ۵۱ ـ ۵۲ مخونه)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ